د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت

د ارشـــــاد، حج او اوقـــــافو وزارت

د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

د جمعې ورځې د خطابت موضوع او

ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو

ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.

---

۱۸/ محرم الحرام /۱۴۴۵ هـ، ق موافق د ۱۳ /اسد /۱۴۰۲هـ، ش

# د کفارو له تقليد او پيروۍ څخه ځان ژغورل

الحمد لله الذي أمرنا بالاقتداء بسيد الأبرار ، ونهانا عن التشبه بالمشركين والكفار، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له ، وأشهد أن محمدًا عبده ورسوله صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه وسلم تسليمًا كثيراً .
{ الْحَمْدُ للهِ الَّذِي هَدَانَا لِهَذَا وَمَا كُنَّا لِنَهْتَدِيَ لَوْلا أَنْ هَدَانَا اللهُ} الاعراف :( ۴۳)

ثنا او صفت هغه ذات لره ده چې مونږ يې د اسلام په مبارک دين مشرف کړي يو.

اسلامي شخصيت درلودل، ظاهراً او باطناً د اسلام اتباع کول د مهمو موضوعاتو څخه ده او لکه څرنگه چې مسلمان د عقيدې په لحاظ له کفارو جلا صفت لري، بايد چې په آدابو ، کردار او عاداتو او د ژوند په هره برخه کې په اسلامي لباس باندې ملبس وي او د کفارو له تقليد څخه ځان وژغوري.

پر مسلمان نر او ښځې، ځوان او سپين ږيري باندې لازم دي چې خپل ظاهر لکه د باطن په څير په اسلام عيار کړي او د اسلام هرحکم پر ځان عملي کړي او خپل ځان په اسلامي لباس اراسته کړي او د ژوند په هره برخه کې اسلام پرځان تطبيق کړي، لکه چې الله تعالی فرمايي:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا ادْخُلُوا فِي السِّلْمِ كَافَّةً وَلا تَتَّبِعُوا خُطُوَاتِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ لَكُمْ عَدُوٌّ مُبِينٌ. فَإِنْ زَلَلْتُمْ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْكُمُ الْبَيِّنَاتُ فَاعْلَمُوا أَنَّ اللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ} البقرة:(۲۰۹)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ايمان يی راوړی دی په اسلام پوره پوره داخل شئ او د شيطان په قدمونو پسې مه ځئ يقينا هغه ستاسو ښکاره دښمن دی. بيا که چيرې تاسو له دينه پس وښويدلی چې تاسو ته ښکاره دليلونه هم راغلل نو پويه شئ چې يقيناً هغه ډير بالغ، ښه حکمت والا دی.

ترڅو مونږ داسې ټولنه ولرو چې په هغې کې د هر مسلمان -نر او ښځه- په ژوندکې اسلامي عادات، اسلامي اخلاق، اسلامي لباس، اسلامي کردار، اسلامي تعامل ملموس او وليدل شي ، هغه داسې چې هر مسلمان په خپل ځان کې ظاهرا او باطناً اسلام مجسم کړي؛ ترڅو مونږ د هر ډول کفري عاداتو او رسوماتو څخه پاکه ټولنه ولرو او دا کار هغه وخت شونی دی چې مونږ د کفارو له تقليد څخه خپل ځانونه ، اولادونه او ځوانان وژغورو.

مسلمان بايد خپل ظاهري مَظهر خوراک، څښاک، لباس، ږيره او بريتو، ويده کيدو، راويښيدو، ناسته ولاړه ، خبرو کولو؛ حتی په لاره تللو کې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د سنتو پيروي وکړي او د کفارو له تقليد څخه ځان وژغوري او له هغو ټولو عاداتو څخه ځان وساتي چې په کفري نړۍ کې مروج دي او د هغوی شعائرو شامل دي.

اسلامي ټولنه خپل تشخص لري او خپل ارزښتونه او واضحه نښانې لري چې باید مونږ دغه اسلامي ارزښتونه په ځان کې پیدا کړو. الله تعالی فرمایلي دي:{لِكُلٍّ جَعَلْنَا مِنكُمْ شِرْعَةً وَمِنْهَاجاً} المائدة:(۴۸)

ترجمه:- مونږ په تاسو کې د هر یو لپاره دستور او لاره مقرر کړی ده.

ددې آیت مفهوم دادی چې مونږ د هر امت لپاره شریعت او ښکاره واضحه لارې ټاکلي دي، هرکله چې هغه قوم په دغو طریقو باندې او ښکاره لار باندې لاړ شي الله تعالی ورڅخه راضي کیږي.[تفسیر بحرالعلوم]

منهاج په عربي کې ښکاره او واضحه لارې ته ویل کیږي. په دې مبارک آیت کې الله تعالی د هغو حکمونو یاودنه کوي چې الله تعالی د هر قوم لپاره جلا رالیږلي دي او الله تعالی شرعي حکمونه -برابره خبره ده چې هغه حکمونه په هره درجه کې وي -د هغې ښکاره او واضحې لارې سره تشبیه کړي دي چې اوبو ته ښکته شوي وي لکه څرنګه چې اوبو ته تلونکی لار سبب د مادي ژوند دی، دغه شان شرعي حکمونه هم سبب د روحي د ژوند دی.

د همدې مبارک آیت د(منهاجا) کلمې څخه معلومیږي چې اسلامي ټولنه خپل واضح او ښکاره عبادات، معاملات، آداب او عادات لري چې د کفارو له عاداتو او رسمونو څخه جلا دي.

مسلمانان په دې مکلف دي چې د خپل دین ټول عادات، اخلاق او حکمونه پرځان عملي کړي او دکفارو له تقلید څخه ځان وژغوري؛ ځکه چې شریعت داسلام مخالف کار څخه منع کړی ده. { وَمَن يَبْتَغِ غَيْرَ الْإِسْلَامِ دِينًا فَلَن يُقْبَلَ مِنْهُ } آل عمران:(۸۵)

ترجمه:- او څوک چې له اسلام نه غیر بل دین وغواړي . نو هیځکله به هم له ده نه قبول نه کړی شي.

لکه څرنګه چې مسلمانان د کفري او شرکي عقیدې څخه منع شوي دي ، دغه شان د کفارو له عاداتو هم منع شوي دي.

هدایت ، روښنایي او کامیابي په قرآن کریم کې ده. د حضرت علي رضي الله عنه د حدیث په یوه برخه کې راځي:(عَنْ عَلِيٍّ مَنْ تَرَكَهُ مِنْ جَبَّارٍ قَصَمَهُ اللَّهُ، وَمَنْ ابْتَغَى الهُدَى فِي غَيْرِهِ أَضَلَّهُ اللَّهُ، وَهُوَ حَبْلُ اللَّهِ المَتِينُ، وَهُوَ الذِّكْرُ الحَكِيمُ، وَهُوَ الصِّرَاطُ المُسْتَقِيمُ، هُوَ الَّذِي لَا تَزِيغُ بِهِ الأَهْوَاءُ، وَلَا تَلْتَبِسُ بِهِ الأَلْسِنَةُ،...مَنْ قَالَ بِهِ صَدَقَ، وَمَنْ عَمِلَ بِهِ أُجِرَ، وَمَنْ حَكَمَ بِهِ عَدَلَ، وَمَنْ دَعَا إِلَيْهِ هَدَى إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ) [سنن الترمذي، سنن الدارمي]

ترجمه:- چاچې د کبر له امله پرېښود( قرآن کریم لره)، الله تعالی به یې هلاک کړي او چاچې ولټولو هدایت په بل څه کې ګمراه به یي کړي الله، دا دالله تعالی رسۍ قوي ده ، او ذکر دی د حکمتونو ډک، او دا قرآن کریم لاره ده مستقیمه، دا هغه کتاب دی چې نه ګمراه کیږي په دې سره خاوندان د نظرونو او نه شي مائل کولی ده لره خاوندان د باطلو نظرونو د سمې لارې څخه او نه ګډوډېږي په دې سره ژبې....چاچې په دې کتاب سره وینا وکړه هغه رېښتیا وویل، چاچې ورباندې عمل وکړ اجر به ورته ورکړ شي او چاچې په دې سره فیصله وکړه عدالت یې وکړ اوچاچې دې ته دعوت وکړ ورسید مستقیمې لارې ته.
مسلمانان له دې څخه منع شوي دي چې له کفارو سره محبت وساتي، له کفارو سره ملګرتیا وکړي یا د کفارو له رسمونو او رواجونو پیروي وکړي. الله تعالی فرمایلي دي:{لا تَجِدُ قَوْماً يُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ يُوَادُّونَ مَنْ حَادَّ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَلَوْ كَانُوا آبَاءَهُمْ أَوْ أَبْنَاءَهُمْ أَوْ إِخْوَانَهُمْ أَوْ عَشِيرَتَهُمْ} المجادلة:(۲۲)

ترجمه:- ته به داسې قوم ونه مومې چې په الله او په ورځ د آخرت ایمان لري چې دوی به له هغو کسانو سره دوستي کوي چې د الله او دهغه د رسول مخالفت کوي اگر چه دغه خلک ددوی پلرونه وی یا ددوی زامن یا ددوی ورونه یا ددوی قبیله وي.

په یو بل مبارک آیت کې د یهودو او نصاراوو د دوستۍ څخه منع راغلی ده:{يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى أَوْلِيَاءَ} المائدة: (۵۱)

ترجمه:- ای هغو کسانو چې ایمان یی راوړی دی تاسو یهودیان او نصرانیان دوستان مه جوړوئ.

د ژوند په چارو کې د کفارو تقلید کول د هغوی سره د ملگرتیا او ددوستۍ ښکاروندوینه کوي، کوم چې الله تعالی ورڅخه منع کړې ده او الله تعالی د کفارو سره دوستي او مینه کول د منافقینو خصلت گرځولی دی. {فَتَرَى الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ مَرَضٌ يُسَارِعُونَ فِيهِمْ يَقُولُونَ نَخْشَى أَنْ تُصِيبَنَا دَائِرَةٌ فَعَسَى اللَّهُ أَنْ يَأْتِيَ بِالْفَتْحِ أَوْ أَمْرٍ مِنْ عِنْدِهِ فَيُصْبِحُوا عَلَى مَا أَسَرُّوا فِي أَنْفُسِهِمْ نَادِمِينَ} المائدة:(۵۲)

ترجمه:- ته به هغه کسان وینې چې د هغوی په زړونو کې بیماري ده چې په مینه ددوی کې منډې وهي او دوی وايي مونږه ویریږو له دې نه چې مونږ ته څه مصیبت راورسي نو قریبه ده چې الله به فتحه راولي یا به له خپلې خوا نه کوم بل حکم راولي، نو دوی به پښیمانه شي په هغو کارونو چې په خپلو زړونو کې پټ کړي دي.

ځینې ضعیف الایمان خلک د کفارو په تقلید کې عزت او کامیابي لټوي، حال داچې عزت د اسلام او د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په پیروۍ کې دی.

اصلي کامیابي د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په پیروۍ کې ده ، په کار ده چې کفار د اسلام او د رسول الله صلی الله علیه وسلم پیروی وکړي ترڅو د دنیا او آخرت له شرمندگۍ څخه نجات ومومي.

{الَّذِينَ يَتَّخِذُونَ الْكَافِرِينَ أَوْلِيَاءَ مِنْ دُونِ الْمُؤْمِنِينَ أَيَبْتَغُونَ عِنْدَهُمُ الْعِزَّةَ فَإِنَّ الْعِزَّةَ لِلَّهِ جَمِيعاً} النساء: (۱۳۹)

ترجمه:- هغه کسان چې له مؤمنانو نه غیر کافران دوستان نیسي آیا دوی له هغوی په خوا کې عزت لټوي؟ بیشکه عزت ټول د الله لپاره دی.

په یو حدیث شریف کې راځي: (عن أبي هريرة عن رسول الله أنه قال: والذي نفس محمد بيده لا يسمع بي أحد من هذه الأمة يهودي ولا نصراني ثم يموت ولم يؤمن بالذي أرسلت به إلا كان من أصحاب النار). صحيح مسلم

ترجمه:- د ابوهریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه السلام وفرمایل: قسم دې وي زما په هغه ذات چې نفس د محمد-صلی الله علیه وسلم-د هغه په واک کې دی نه خبرېږي په بعثت زما هیڅوک ددې امت څخه ، نه یهودي او نه نصراني چې بیا هغه مړ شي او ایمان را نه وړي په هغه کتاب چې زه ورباندې لیږل شوی یم ؛ مگر داچې د جهنم له خلکو څخه به وي.

که چیرې مسلمانان په خپل اسلام کلکې منگولې ولگوي او په خپل دین باندې پوره عمل وکړي لکه څرنگه چې په ماضي کې مسلمانانو اسلام د ژوند په هر برخه کې عملي کړی ؤ، نو بیا به په دنیا او آخرت کې ټوله کامیابي او عزت د مسلمانانو په برخه وي.

د يهودو، نصاراوو او نورو كفارو په تقليد كې كفارو ته ميلان رامنځ كيږي، هغه ميلان چې الله تعالى ورڅخه منع كړې ده او كفارو ته ميلان كول يي د عذاب سبب ګرځولی دی. الله تعالى فرمايلي دي:{وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُمْ مِنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنْصَرُونَ} هود: (۱۱۳)

ترجمه:- او تاسو د هغو كسانو په طرف مه مائله كيږئ چې ظلم يې كړی دی، كه نه، نو ددوزخ د اور به تاسو ته در ورسيږي په داسې حال كې چې تاسو لپاره به د الله نه په غير هيڅ كارسازی او دوستان نه وي بيا به له تاسو سره مدد نه كولی شي.

د ( ولا تركنوا) مختلف تفسيرونه شوي دي. قتاده رح وايي: ددوی سره محبت مه كوئ او پيروي يي مه كوئ. ابن جريج رح وايي: دوی ته ميلان مه كوئ. ابوالعاليه رح وايي: ددوی په كړنو مه راضي كيږئ. امام قرطبی وايي دا ټولې معناګانې سره نږدې دي.[تفسير القرطبي]

كفارو ته ميلان كول ډيره خطرناكه خبره ده؛ ځكه الله تعالى فرمايي كه چيرې كفارو ته مو ميلان وكړ او د هغوی په محبت كې ورګډ شوی د جهنم اور به درته ورسيږي.

كفارو ته ميلان كول دومره خطرناكه موضوع ده چې حتى الله تعالى خپل خوږ پيغمبر حضرت محمد صلى الله عليه وسلم ته فرمايي چې مونږ پر تا احسان وكړ او د كفارو له ميلان څخه مو وساتلی او كه چيرې - نعوذبالله-تا كفارو ته ميلان كړی وی مونږ به درته په دنيا او آخرت كې دوه چنده عذاب دركړی ؤ. الله جل جلاله فرمايلي دي:{وَلَوْلاَ أَن ثَبَّتْنَاكَ لَقَدْ كِدتَّ تَرْكَنُ إِلَيْهِمْ شَيْئًا قَلِيلاً. إِذاً لَّأَذَقْنَاكَ ضِعْفَ الْحَيَاةِ وَضِعْفَ الْمَمَاتِ ثُمَّ لاَ تَجِدُ لَكَ عَلَيْنَا نَصِيراً}الاسراء:(۷۵)

ترجمه: او كه ته مونږ (په حق باندې) نه وی ټينګ كړی، (نو) يقيناً يقينا ته نژدې وی چې دوی ته لږ څه مائله شی. (نو) په دغه وخت كې به خامخا مونږ به په تا څكلی وی دوه چند عذاب په (دې دنيوي) ژوندون او دوه چنده عذاب په مرګ (په آخرت) كې بيا به تا د خپل ځان لپاره زمونږ په خلاف مدد كوونكی نه وی موندلی.

په دې آيت كې الله تعالى د كفارو د ميلان په اړه سخترين وعيد ذكر كړی دی، ځكه چې كفارو ته د ميلان په نتيجه كې د هغوی سره مينه ، محبت او ملګرتيا رامنځ ته كيږي، هغه څه چې د اسلام سره منافي دي او د يهودو او نصاراوو په ملګرتيا كې اسلام او اسلامي ټولنه محوه كيږي او له منځه ځي.

كه چيرې پورتني مبارک آيت ته ځير شو نو لاندې خبرې ورڅخه معلوميږي:

۱-كفارو ته ميلان حرام قطعي دی، ولو كه په كم مقدار سره وي او يا د كم وخت لپاره وي.

۲-كفارو ته ميلان ولو كه فرضاً د پيغمبر له خوا نه واقع شي هم قابل قبول نه دی.

۳-كفارو ته ميلان په دنيا او آخرت كې دوه چنده عذاب له ځانه سره لري.
بناءً د كفارو داخلاقو، د كفارو د عاداتو او تهذيب ته ميلان كول او د كفارو د كارونو تقليد كول د (الركون يعنى ميلان) معنا لري او بايد چې مسلمانان ورڅخه په كلكه ځان او اولاد وژغوري.

د ژوند په کارونو کې د کفارو تقلید کول د کفارو په شان ږیره خریل او د هغوی په شان ږیره جوړل، د کفارو په شان ویښته پریښودل، د کفارو په شان- په قصدي توګه –لباس جوړول، د کفارو په شان عادتونه اختیارول،عیسوي کال لمانځل، د کال په پوره کیدو جشن نیول... دغو ټولو کارونو ته (ولا ترکنوا) مبارک آیت شامل دی.
د کفارو تقلید کولو یوه نمونه د هغوی سره مشابهت کول دي او په اسلام کې مؤمنان د کفارو سره د مشابهت کولو څخه منع شوي دي او اسلامي شریعت دکفارو په مخالفت امر کړی دی.
د کفارو سره ځان مشابه کول حرام دی. نبي علیه السلام فرمایلي دي:(من تشبه بقوم فهو منهم). رواه أحمد و أبو داود .
څوک چې د کوم قوم سره په قصدي توګه مشابهت وکړ، هغه هم د هغه قوم څخه دی.
په یو بل حدیث کې راځي: (لَيْسَ مِنَّا مَنْ تَشَبَّهَ بِغَيْرِنَا، لَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ وَلَا بِالنَّصَارَى، فَإِنَّ تَسْلِيمَ الْيَهُودِ الْإِشَارَةُ بِالْأَصَابِعِ، وَتَسْلِيمَ النَّصَارَى الْإِشَارَةُ بِالْأَكُفِّ).[ سنن الترمذي]
ترجمه: زمونږ د ډلې څخه نه دی هغه څوک چې ځان د نورو (کفارو) سره مشابه کړي پرته له مونږ څخه ، مشابهت مه کوئ د یهودو سره او مشابهت مه کوئ د نصاراو سره، ځکه د یهودو سلام په ګوتو سره اشاره کول دي او دنصاراو سلام په ورغوي سره اشاره کول دي. آن تر دې پورې چې ځینو حنفي فقهای کرامو د کفارو سره مشابهت کول او د هغوی سره په لباس کې او د هغوی سره په اخترونو کې مشابهت کول کفر ګڼلی دی. [اقتضاء الصراط المستقيم]

حافظ ابن تیمیه رح وایی:( په ظاهر بڼه کې مشابهت په باطن کې د محبت او مینې رامنځ ته کولو سبب ګرځي لکه څرنګه چې په باطن کې محبت کول په ظاهر کې د مشابهت رامنځ کولو سبب ګرځي او دا خبره په تجربې او مشاهدې سره ثابت ده...

په ظاهري بڼه کې مشارکت ددواړو طرفونو ترمنځ تناسب، هم شکلي او یو شان والی رامنځ ته کوي او په ظاهر کې یو شان والی د اخلاقو او اعمالو موافقت ته کش کول کوي لکه څرنګه چې په ظاهري بڼه کې مخالفت، ددواړو طرفونو ترمنځ جدا والی او جلا والی رامنځ ته کوي چې د روابطو د انقطاع سبب ګرځي.[ اقتضاء الصراط المستقيم]

د اسلام مقدس دین د کفارو په مخالفت امر کړی دی؛ ترڅو مسلمانان د کفارو سره هیڅ ډول مشابهت ونلري.

د همدې امله نبي علیه السلام د مشرکانو په مخالفت امر کړی دی او فرمایلي یي دي:(خَالِفُوا الْمُشْرِكِينَ، وَفِّرُوا اللِّحَى وَأَحْفُوا الشَّوَارِبَ). صحيح البخاري

ترجمه:- مخالفت وکړئ د مشرکینو سره، ږیرې پریږدئ او بریتان لنډ کړئ.

همدا راز نبي علیه السلام به د یهودو او نصاراوو سره مشابهت کولو څخه ځان ساتلو حتی د عباداتو په انجام کې. په یو حدیث شریف کې راځي :(عن ابن عباس قال حين صام رسول الله -صلى الله عليه وسلم- يوم عاشوراء وأمر بصيامه قالوا يا رسول الله إنه يومٌ يعظمه اليهود والنصارى فقال رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فإذا كان العام المقبل إن شاء الله صمت اليوم التاسع قال فلم يأت العام المقبل حتى توفي رسول الله -صلى الله عليه وسلم-). متفق عليه

ترجمه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي کله چې نبي عليه السلام د عاشوراء روژه ونيوله او صحابه کرامو ته يي د عاشوراء د روژې په نيولو امر وکړ. صحابه کرامو وويل: ای دالله رسوله! عاشوراء هغه ورځ ده چې يهود او نصارا يي تعظيم او درناوی کوي. نبي عليه السلام وفرمايل: کله چې بل کال راشي ان شاء الله زه به دمحرم الحرام نهمه ورځ هم روژه نيسم. ابن عباس رضي الله عنه فرمايي د راتلونکي کال (د محرم) څخه مخکې نبي عليه السلام وفات شو.

په يو بل حديث شريف کې نبي عليه السلام فرمايلي دي:(خَالِفُوا الْيَهُودَ فَإِنَّهُمْ لاَ يُصَلُّونَ فِي نِعَالِهِمْ وَلاَ خِفَافِهِمْ). سنن أبی داود

ترجمه:- د يهودو سره مخالفت وکړئ (او په پڼو او څپليو کې لمونځ وکړئ) ځکه يهود لمونځ نه کوي په خپلو پڼو کې او نه په څپليو کې.

د کفارو د تقليد څخه مراد، د کفارو د کړو وړو پيروي کول دي او الله تعالی د کفارو له پيروۍ څخه ممانعت کړی دی.

الله تعالی فرمايلي:{وَلَنْ تَرْضَى عَنْكَ الْيَهُودُ وَلا النَّصَارَى حَتَّى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ قُلْ إِنَّ هُدَى اللَّهِ هُوَ الْهُدَى وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَاءَهُمْ بَعْدَ الَّذِي جَاءَكَ مِنَ الْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَلِيٍّ وَلا نَصِيرٍ} البقرة:(١٢٠)

ترجمه:- او له تانه خو به هيڅکله نه يهوديان راضي شي او نه نصرانيان تر دې چې ته ددوی ددين پيروي وکړې ته ووايه بيشکه د الله هدايت، هم هغه اصل هدايت دی او يقينا که تا، له دينه پس چې تاته علم راغی د هغوی د خواهشاتو پيروي وکړه،( نو) تا لره دالله (له عذاب) نه (خلاصوونکی) نه څوک دوست شته او نه کوم مدد گار.

په حديث شريف کې راځي:(عن أَبِي سَعِيدٍ الْخدْرِيِّ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم، قَالَ: لَتَتْبَعُنَّ سَنَنَ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ، شِبْرًا بِشِبْرٍ، وَذِرَاعًا بِذِرَاعٍ حَتَّى لَوْ دَخَلُوا جُحْرَ ضَبٍّ تَبِعْتُمُوهُمْ قُلْنَا: يَا رَسُولَ اللهِ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى قَالَ: فَمَنْ؟).أخرجه البخاري

ترجمه:- د ابو سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي عليه السلام وفرمايل: خامخا تاسو به پيروي وکړی د طريقو د هغو خلکو چې ستاسو څخه مخکې تير شوي دي، لويشت په لويشت او گز په گز؛ آن تر دې پورې چې که چيرې دوی ننوزي په سوړه د کربوړي کې تاسو به هم ور پسې ورننوزی. مونږ وويل ای دالله رسوله! دا خلک به يهود او نصارا وي ؟ هغه وفرمايل: نور به څوک وي؟

امام قسطلاني رح ددې حديث په شرح کې وايي: (لو دخلوا جحر ضب) دا کنايه ده د کفارو د پيروۍ څخه په گناهونو کې نه په کفر کې يعنی تاسو به د يهودو او نصاراوو د کارونو او طريقو داسې پيروي کوی چې که چيرې دوی په تنگ سوري کې ننوتل تاسو به هم ورپسې ورننوزی او ملگرتيا به يي وکړی.[ إرشاد الساري]

د کفارو د تقليد بدترين شکل د کفارو په شان ځان ته وضعي قوانين جوړل دی او پر ځان حاکمول دي. علمای کرام وايي چې د کفارو په څير د اسلامي قوانينو پر خلاف وضعي قوانين جوړل، پرځان د طاغوت حاکمول دي.